# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**24 الی 25عقرب _سال 1402**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب


عنوان صفحه

معین مسلکی وزارت با والی و اعضای کمیسیون منتخب مساعدت به زلزله زده گان ولایت هرات دیدار نمود ---------1

لغمان کې له زرو زیاتو کورنیو ته د نغدي مرستو د وېش لړۍ پیل شوه -------------------------------------------2

بیش از ۵ هزار تن مهاجر افغان ازپاکستان به وطن برگشت نمود-------------------------------------------------2

د ایران څخه له دوه زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول-----------------------------------------------3

برای ۳۵ خانواده عودت کننده اجباری در ولایت بلخ کمک خوراکی و نقدی توزیع شد ------------------------------3

پکتیکا کې ۱۳۰ راستنېدونکو ته پاخه شوي خواړه ووېشل شول-------------------------------------------------4

نشست کمیته رسیدگی به مشکلات عودت کنندگان اجباری از پاکستان در ولایت سرپل برگزارشد ---------------------4

بلخ کې لسګونه کورنیو سره نغدي مرستي وشوې --------------------------------------------------------------4

مجلس سنای فرانسه لایحه قانون مهاجرت را با سختگیری‌های بیشتر تائید کرد--------------------------------------5

له پاکستان څخه تر ۳۰۰ زرو زیات افغانان خپل هیواد ته ستانه شوي -------------------------------------------7

د آلمان بایرن ایالت پناه غوښتونکو ته د نقدي پر ځای غیر نقدي مرستې پېلوي ------------------------------------8

لامپېدوسا ټاپو ته ۱۳۰۰ مهاجر رسېدلي دي -----------------------------------------------------------------9

کالي ښار کې یو کډوال په چاړه وژل شوی دی ---------------------------------------------------------------11

په آلمان کې پر کډوالو بریدونه ډېر شوي ---------------------------------------------------------------12

# متن کامل اخبار

## معین مسلکی وزارت با والی و اعضای کمیسیون منتخب مساعدت به زلزله زده گان ولایت هرات دیدار نمود

ویب سایت وزارت



**مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان و رئیس کمیته اسکان موقت، با مولوی نوراحمد اسلام جار والی هرات و اعضای کمیسیون منتخب مساعدت به زلزله زدگان به تاریخ ۲۳ عقرب دیدار نمود.**

**در این دیدار والی هرات و اعضای کمیسیون منتخب مساعدت به زلزله زدگان ضمن قدردانی از تشریف آوری معین مسلکی گفت: همیش در خدمت مردم قرار خواهیم داشت، و زمان آن است تا برای مردم افغانستان بشکل بهتر مصدر خدمت شویم .**

**در عین حال آقای راشد، مبلغ یک صدو ۲۱ هزار و۶۶۶ دالر امریکایی و یک میلیون و ۵ صدو ۴۹ هزار و ۱۵۹ افغانی مساعدت مالی تعدادی از هموطنان را بخاطر کمک به آسیب دیده های ناشی از زلزله در آن ولایت به دفتر مقام عالی ریاست الوزرا تحویل داده بودند به ولایت هرات انتقال و به کمیسیون مربوطه تحویل داد.**

**معین مسلکی از تلاش های مسئولین در راستای رسیدگی به آسیب دیدگان این فاجعه بزرگ قدردانی نموده بیان داشتند، که بسیج و توزیع منظم مساعدت ها از یک طرف سبب رسیدگی به آسیب دیدگان شده و از طرفی هم اعتماد مردم را به مسئولین امور بیشتر ساخت، که تحویل این مساعدت نقدی خود اعتماد و باورمندی مردم را نسبت به مسئولین نشان می‌دهد.**

**همچنان آقای راشد، از تلاش ها در راستای جلب کمک های بیشتر درآن ولایت تعهد سپردند.**

## لغمان کې له زرو زیاتو کورنیو ته د نغدي مرستو د وېش لړۍ پیل شوه

د وزارت ویب سایت



**د لغمان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په دغه ولایت کې یو زرو او ۲۵۰ بېځایه شوو او راستنېدونکو کورنیو ته د لړم په ۲۳مه د نغدي مرستو د وېش لړۍ د پیل خبر ورکړ.**
**د مهاجرینو چارو د رئیس په خبره یادو کسانو مخکې د کار په مقابل کې د پیسو د ورکړې برنامې له لارې د رودونو د پاکولو، د کرنیزو تخمونو د شیندولو او د لارو هوارولو په موخه د مهاجرینو چارو ریاست له لوري د بنځو له پاره د بنځو مؤسسې په همکارئ انتخاب شوي وو، چې هر یوه ته به یې د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري په مالي مرسته د یوې میاشتې کار په مقابل کې ۱۳ زره او ۲۵۰ افغانی نغدې ورکړل شي.**

## بیش از ۵ هزار تن مهاجر افغان ازپاکستان به وطن برگشت نمود

ویب سایت وزارت

**۵ هزار و۵۰۵ تن مهاجر افغان به تاریخ ۲۳ عقرب از مرز های تورخم و سپین بولدک به کشور برگشت نمودند.**

**به اساس گزارش آمریت سرحدی سپین بولدک ولایت قندهار ۶۷۷ خانواده که شامل ۳ هزار و ۶۹۴ تن و ۵ تن محبوسین عودت کننده میباشد از مرز یا د شده به وطن طور جبری عودت و پس از ثبت در آمریت سرحدی سپین بولدک برای هر خانواده مبلغ ۱۰ هزار افغانی از جانب امارت اسلامی نیز توزیع شد.**

**همچنان به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار۳۴۳ خانواده که شامل یک هزار و ۸۰۶ تن بودند، طور جبری از پاکستان برگشت نمودند.**

**منابع افزودند که عودت کننده ها پس ازثبت در ادارات امور مهاجرین ولایات متزکره جهت کمک های بیشتر به دفاتر کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.**

## د ایران څخه له دوه زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول

د وزارت ویب سایت

**د ایران څخه دوه زره او ۷۳۰ تنه افغان مهاجر دلږم په ۲۳ مه په خپله خوښه او جبري توګه هېواد ته راستانه شوي. د اسلام قلعې د سرحدي آمر په خبره په یادو راستنېدونکو کې کورنۍ او مجردان شامل وو چې له ډلې یې ۳۰۷ تنه د مرستو په موخه د مهاجرت نړېوال سازمان ته ور وپېژندل شول، چې ورسره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې ترسره شوې.**

## برای ۳۵ خانواده عودت کننده اجباری در ولایت بلخ کمک خوراکی و نقدی توزیع شد

ویب سایت وزارت



**ریاست امور مهاجرین ولایت بلخ از توزیع کمک خوراکی و نقدی برای ۳۵ خانواده عودت کننده اجباری از پاکستان به تاریخ ۲۳ عقرب خبرداد.**

**خانواده های یاد شده جدیداً در کمپ موقت شناسایی و برای هر خانواده بسته های خوراکی شامل ۹ قلم و مبلغ ۳ هزار افغانی پول نقد از جانب کمیته حالات اضطراری و موسسه QASE بود که در کمپ موقت با نظارت کمیته اضطراری آن ولایت توزیع گردید.**

**طبق یک خبر دیگر برای ۳۰ تن بیجاشده دیگر در محلات تاتارآباد ، نسیم مهدی و تخته پل که قبلا آموزش های حرفوی را فرا گرفته بودند مبلغ ۶ هزار افغانی از جانب کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان توزیع شد.**

**همچنان ۶۰ بوتل ۵ لیتره روغن برای عودت کننده گان اجباری از پاکستان از جانب یکتن از بازرگانان ملی به کمیته حالات اضطراری ولایت بلخ نیز مساعدت شد.**

## پکتیکا کې ۱۳۰ راستنېدونکو ته پاخه شوي خواړه ووېشل شول

د وزارت ویب سایت



**پکتیکا ولایت کې له پاکستان څخه ۱۳۰ اجباري راستنېدونکو ته د لړم په ۲۳مه پاخه شوي خواړ ووېشل شول.**
**د پکتیکا ولایت د مهاجرینو چارو د رئیس په خبره یادې خوراکي مرستې د راستنېدونکو وضعیت ته د لاسرسي عالي کمیسیون له لوري د شرني موقتي کمپ کې ووېشل شوې.**
**همدارنګه ۱۰ تنه راستنېدونکي، چې په بېلا بېلو مرضونو اخته وو، درملنه شوې او دیاد کمپ د روغتیایي مرکز له لوري یې څارنه شوې.**

## نشست کمیته رسیدگی به مشکلات عودت کنندگان اجباری از پاکستان در ولایت سرپل برگزارشد

ویب سایت وزارت

**نشست کمیته رسیدگی به مشکلات عودت کنندگان اجباری از پاکستان در ولایت سرپل تحت ریاست معاون والی به تاریخ ۲۳ عقرب تدویر شد.**

**داملا محمد نادر حقجو معاون والی سرپل در مورد شناسایی جای مناسب برای ایجاد کمپ اختصاصی موقت الی ادغام عودت کنندگان بحث نموده خواهان همکاری ادارات حکومتی نیزشد.**

**سپس روسای اقتصاد، معارف، حوادث و سره میاشت در مورد ایجاد کمپ و جابجا سازی عودت کننده گان اجباری**

**تهیه خیمه مورد ضرورت صحبت نمودند، نماینده های ادارات متذکره همکاری شان را در مورد ابراز داشتنند.**

## بلخ کې لسګونه کورنیو سره نغدي مرستې وشوې

د وزارت ویب سایت



**بلخ ولایت کې ۶۷ راستنېدونکو او له ګاونډیو هېوادونو څخه ډیپورت شوو کورنیو سره د لېرم په ۲۳مه نغدي مرستې وشوې.**

**دغه کورنۍ، چې مخکې د مهاجرینو چارو ریاست له لوري سروې او د مرستو له پاره مستحقې په نښه شوې وې د مهاجرت نړیوال سازمان په مالي مرسته د مهاجرینو چارو ریاست تر څارنې لاندې هرې کورنۍ ته په دوو کټګوریو کې ۱۲ زره او ۴۰۰ او ۱۸ زره افغانۍ ووېشل شوې.**

## مجلس سنای فرانسه لایحه قانون مهاجرت را با سختگیری‌های بیشتر تائید کرد

مهاجرنیوز



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



مجلس سنای فرانسه، روز سه شنبه ۱۴ نومبر متن سختگیرانه‌تری از پیش نویس قانون مهاجرت فرانسه را تصویب کرد. مطابق قانون، لایحه جدید که اعمال کنترول بیشتر بر مهاجرت و سختگیری در اعطای کارت اقامت و شهروندی به مهاجران را توصیه می‌کند، باید در مجلس نمایندگان نیز مورد بحث و بررسی قرار بگیرد.

لایحه قانون جدید مهاجرت در فرانسه بعد از یک بحث و بررسی و تغییرات اساسی در مواد مهم، آن روز سه شنبه با اکثریت ۲۱۰ رای موافق و ۱۱۵ رای مخالف در مجلس سنا تصویب شد.

پس از ورود هزاران مهاجر به جزیره لامپدوسا در ایتالیا در ماه سپتمبر و قتل یک معلم در یکی از لیسه‌های شمال فرانسه به دست یک مهاجر تحت نظارت امنیتی، قانون جدید مهاجرت، با فشار و سختگیری‌های جدی از سوی سناتوران تائید شد.

بخشی از تغییرات در لایحه قانون جدید این‌ها هستند:

محدودیت در شرایط اقامت و اعطای شهروندی

-الزام حداقل تسلط بر زبان فرانسوی برای به دست آوردن کارت اقامت چندین ساله

-الزام اقامت ده ساله برای درخواست ملیت یا شهروندی فرانسوی. این مهلت تا کنون ۵ سال است.

-پایان «حق زمین» برای فرزندان متولد شده در فرانسه که به گونه اتوماتیک در ۱۸ سالگی شهروندی به دست می‌آوردند.

-لغو حق حفاظت برای افرادی که قبل از ۱۳ سالگی به فرانسه آمده‌اند، یا افرادی که مدت ۲۰ سال در فرانسه اقامت دارند. این افراد در صورت محکومیت به ۵ سال زندان یا تهدید امنیتی، قابل اخراج هستند.

-مشروط کردن حق درخواست الحاق خانوادگی به حداقل دو سال اقامت در فرانسه.

**اقامت غیرقانونی**

-الزام ترک خاک فرانسه بعد از اولین پاسخ رد به درخواست پناهندگی و بدون حق تجدیدنظر

-افزایش مهلت ترک خاک فرانسه از دو به سه سال و ممنوعیت ده ساله برای بازگشت به فرانسه به جای ۵ سال کنونی.

-لغو حق اتوماتیک دریافت کارت اقامت برای کارگران غیرقانونی که در بخش‌هایی کار کرده‌اند که با کمبود نیروی کار مواجه هستند. وضعیت این افراد به صورت انفرادی و استثنایی می‌تواند بررسی گردد اما در صورتیکه حد اقل سه سال بدون وقفه در فرانسه اقامت کرده باشند.

**بیمه و مزایای اجتماعی**

-لغو بیمه اجتماعی برای افرادی که حکم ممنوعیت اقامت، لغو کارت اقامت یا اخراج دریافت کرده‌اند.

-مشروط کردن دریافت مزایای اجتماعی (کمک خانوادگی، کمک مسکن..) به حد اقل اقامت پنج ساله برخلاف شش ماه کنونی.

-لغو کمک‌های صحی دولتی برای افراد بدون درآمد و جایگزین کردن آن با کمک‌های صحی فوری و واکسین‌های اساسی برای زنان حامله یا افراد مبتلا به بیماری‌های جدی.

متن جدید لایحه قانون مهاجرت در ۱۱ دسمبر برای بررسی به مجلس نمایندگان ارائه خواهد شد. مجلس نمایندگان به نوبه خود می‌تواند نظرات و تغییراتی را در متن کنونی وارد کند.

## له پاکستان څخه تر ۳۰۰ زرو زیات افغانان خپل هیواد ته ستانه شوي

مهاجرنیوز




**د پاکستان چارواکي وايي چې تر اوسه پورې تر ۳۰۰ زرو څخه زيات افغانان بېرته خپل هيواد ته ستانه شوي دي.**

**پاکستان تېره مياشت اعلان وکړ چې په دلیزه توګه به هغه افغانان اخراج کړي چې په دغه هيواد کې بېله اړینو اسنادو څخه ژوند کوي. لوېديځو هيوادونو او د بشر د حقونو نړيوالو سازمانونو د پاکستان پر دغه پرېکړه سختې نيوکې کړې وې.**

**د پاکستان چارواکي وايي چې په تېرو دوو اونيو کې يې ۳۰۵۴۶۲ افغانان ثبت کړي دي چې بېرته خپل هيواد ته ستانه شوي. د فضل ربي په نوم يو چارواکي چې د افغانانو د اخراج د پروسې نظارت کوي ويلي دي چې له پاکستان څخه اکثريت افغان مهاجر د خيبر پښتونخوا څخه افغانستان ته ستانه شوي دي. دغه چاروکي د تورخم له لارې و افغانستان ته د بېرته ستنېدونکو افغانانو شمېر ۲۰۹۵۵۰ ياد کړی دی.**

**د کوټې کمشنر، حمزه شفق ويلي دي چې د چمن سرحد له لارې افغانستان ته ۹۵۹۱۲ افغانان اوښتي دي .**

**چاروا‌کي ربي ويلي دي چې هره ورځ تقريبا ۴۰۰۰ افغانان د تورخم له لارې له پاکستان څخه خپل هيواد ته ستنيږي .**

## د آلمان بايرن ايالت پناه غوښتونکو ته د نقدي پر ځای غير نقدي مرستي پيلوي

مهاجرنيوز




**د آلمان بایرن ایالت ویلي دي چې غواړي د نوي کال له پیل څخه و پناه غوښتونکو ته د نقدي مرستو پر ځای ځانګړي کوپین ته ورته کارتونه ورکړي.**

**په آلمان کې په تیرو وختونو کې په دې تړاو ډېر بحثونه شوي چې دغه هیواد د مهاجرو لپاره ځکه هم جذاب دی، ولې چې د نورو هیوادونو په پرتله د مهاجرو سره میاشتنۍ زیاتې مرستې کوي. په دې ترڅ کې د ایالتونو د لومړي وزیرانو او د آلمان د صدراعظم تر منځ په سرمشریزه کې پر دې تفاهم موجود و چې د ایالتونه دې د نقدي میاشتنیو مرستو پر ځای مهاجرو ته غیر نقدي مرستې ورکوي. هیله ورسره دا تړل شوې چې په دغه اقدام به آلمان د راتلونکو مهاجرو لپاره نور ډېر زیات جذاب نه وي او هغوی به د نقدو مرستو په سپما سره و انساني قاچاق وړونکو ته پیسې نشي برابرولای.**

**اوس د آلمان بایرن ایالت اعلان کړی دی چې غواړي د ۲۰۲۴ کال له پیل څخه و پناه غوښتونکو ته داسې کارتونه ورکړي چې په مرسته به یې هغوی د اړتیا خوراکي او نور څیزونه رانیولای شي. دا به د کوپن په شان وي او د نقدي مرسته ځای به ونیسي. د بایرن ایالت دا اعلان د هغه وروسته وکړ چې د ایالتي کابینې لخوا د سه شنبې په ورځ (د ۲۰۲۴ کال د نوامبر ۱۴ نېټه) په دې تړاو توافق وشو .**

**د بایرن د ایالت په حواله و پناه غوښتونکو ته به نه یوازي په لومړي ثبت کوونکو مراکزو «انکر څېنټرن» بلکه په نورو مهاجرو کمپونو کې هم د کوپین کارتونه وویشل شي.**

**د یاد کارت لرونکي کولای شي چې د بانک د کارت په شان ورباندې په مغازو کې سودا وکړي. خو د پیسو لېږد او آنلاین سودا په کول ممکن نه دي.**

## لامپېدوسا ټاپو ته ۱۳۰۰ مهاجر رسېدلي دي

مهاجرنیوز



د ایټالیې و لامپېدوسا ټاپو ته د صرف څو ساعتونو په جریان کې تر ۱۳۰۰ څخه زیات مهاجر په کښتیو کې رسېدلي دي.

د هغه وروسته چې په مدیترانه کې واقع د ایټالیې و لامپېدوسا ټاپو ته د رسېدونکو مهاجرو په شمېر کې په پرتلیزه توګه کموالی راغلی و، اوس له افریقا څخه ورته زیات مهاجر پر یو وخت رسېدلي دي. د آلمان د خبري آژانس د خبر له مخې د سه شنبې د شپې راهیسي و دغه ټاپو ته په کښتیو کې د نوو رسېدونکو مهاجرو شمېر ۱۳۷۲ کسه ثبت شوی دی .دا معلومات د ټاپو چارواکو د چهارشنبې په ورځ ورکړل.

د چارواکو په وینا له تونس او لیبیا څخه په خپل سفر پېلوونکو کښتیو کې یوه کې یې ۴۰۰ انسانان په ډېر تنګ ځای کښي سره یوځای اچول شوي ول. په وینا یې دغه مهاجر له سوریې، مصر، پاکستان او بنګله دېش سره تړاو لري.

د ایټالیې کوچنی ټاپو لامپېدوسا و اروپا ته د غیراصولي مهاجرت یو مهم هدف دی، ځکه چې و افریقا ته نژدې واقع دی. خو د هغه باوجوده و دغه ټاپو ته د کښتیو په مرسته مهاجرت کول زښت زیات خطرناک کار دی. زیات وختونه پر دغه لاره زیات مهاجر خپل ژوند له لاسه ورکوي .

د سپتمبر میاشتې په پیل کې په یوه ورځ و دغه ټاپو ته تر ۵۰۰۰ څخه زیات مهاجر رسېدلي ول. د هغه وروسته د رسېدونکو مهاجرو په شمېر کې په دومداره توګه ښکاره کمښت راغلی و. د روان عیسوي کال ۲۰۲۳ د پیل راهیسي بیا هم و ایټالیې ته د سمندر له لارې ۱۴۶ زره مهاجر رسېدلي دي. دا هغه کسان چې د سفر لپاره یې اړین اسناد نه لرل. یاد شمېر د مخکني ۲۰۲۲ کال په پرتله ۶۰ زره زیات دی.

## **کالي ښار کې یو کډوال په چاړه وژل شوی دی**

مهاجرنیوز



**د فرانسې په شمالي کالي ښار کې د دوشنبې په ورځ یو سوډانی کډوال په چاړه وژل شوی دی.امنیتي ځواکونه وايي چې د بریدګر پسې یې لټون پیل کړی دی .**

**د فرانسې خبري اژانس د بولونی سور مېر څارنوالۍ له قوله خبر ورکړی چې دغه ۲۲ کلن سوډانی د دوشنبې په ماسپښین د نومبر په ۱۳مه د یوې نښتې په ترڅ کې په چاړه وژل شوی دی .**

**د کوکل قضايي پولیسو او سرحدي ځواکونو د دې قضیې په اړه دوسیه پرانیستې ده. د څارنوالۍ په وینا، تر اوسه د دغه کس د وژنې په تړاو څوک نه دی نیول شوی.**

**بل لورته <u>نور لیتورال</u> ورځپاڼې لیکلي چې بریدګر له پولیسو په تېښته بریالی شوی دی او چارواکو یې لټون پیل کړی دی**

**»د هرکلي سیستم نشتوالی«**

**د فرانسې په شمالي سیمه کې د کډوالو ترمنځ نښته نوې خبره نه ده. د اګست میاشتې په لومړیو ورځو کې کالې ښار د دوو کډوالو ترمنځ شخړه کې یو ایرانی د چړو په ګوزارونو ټپي شوی و. پولیسو د دې پېښې په تړاو یو عراقی تبعه کس نیولی و.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

همدارنګه د می میاشتې په وروستیو ورځو کې د کالې په مرکز کې د کډوالو ترمنځ شخړه کې څلور تنه ټپیان شوي وو. د اپریل په لومړۍ نېټه هم د لون پلاژ په ماردیک کمپ کې د یو شمېر کډوالو ترمنځ نښته رامنځته شوې وه چې له امله یې دوه تنه ژوبل شوي وو.په فبرورۍ کې بیا یو عراقی کډوال په همدغه کمپ کې په ډزو وژل شوی و.

فرانسوي چارواکو د جون میاشتې په لومړیو ورځو کې لون پلاژ کې د ۱۳ شکمن قاچاق وړونکو د نیولو خبر ورکړی او ویلي یې وو چې له دغو کسانو څخه یې وسلې او مهمات هم ترلاسه کړي دي.د ۲۰۲۲ له پیل راهیسې دغه کمپ کې د ډزو له امله ۳ تنه وژل شوي او ۲۰ تنه نور ژوبل شوي دي.

په ورته مهال د کډوالو مدافع سازمانونه وايي چې کالې او شاوخوا سیمو کې «د هرکلي سیستم نشتوالی» د غمجنو پېښو د رامنځته کېدو سبب ګرځي.

بیا ولولئ :فرانسه: کالې ته نږدې د شاوخوا سلو کډوالو ترمنځ شخړه

## په آلمان کې پر کډوالو بریدونه ډېر شوي

دویچه وله




د آلمان پولیسو پر کډوالو د ۲۰۲۲م کال په پرتله سږ کال ډېر بریدونه ثبت کړي دي. ویل شوي چې پر مهاجرو او پناه غوښتونکو او همدا راز یې پر سرپناو بریدونه ډېر شوي دي.

دا معلومات د آلمان حکومت د پارلمان د کیڼ اړخو د جناح د یوې اړوندې پوښتنې په ځواب کې شریک کړي دي. په دې ترڅ کې زیاته شوې چې د روان میلادي کال په لومړیو نهو میاشتو کې د تېر کال د همدې مودې په پرتله دا ډول ډېرې پېښې ثبت شوي دي.



Website: *https://morr.gov.af*

Twitter: *https://twitter.com/MoRRAfg*

Facebook*: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

د معلوماتو په حواله د روان ۲۰۲۳م کال په دريو ربع کې پر کډوالو او پناه غوښتونکو او د هغوی پر سرپناو ۱۵۱۵ بريدونه شوي دي، په داسې حال کې چې د ۲۰۲۲م کال په همدې موده کې د دې ډول بريدونو شمير ۱۳۷۱ وو.

د هغه احصايې پر اساس چې د آلمان خبري آژانس «دې پي ای» ته رسېدلي، هغه بريدونه چې په ترڅ کې يې د مهاجرو يوه سرپناه د سياسي انګيزه لرونکي بريد هدف ګرځيدلي وي، د روان کال په دريمه ربع کې ۳۰ برابره ډير ول.

له دې بريدونه څخه يې درې په اصطلاح د زور زياتي پيښې يا سنګين جرمونه ول. پر سرپناو ډېر بريدونه، يعني ۲۳ جرمونه پوليسو په ښی اړخو پورې تړلي دي.

د پوليسو په وينا د سياسي انګيزه لرونکو هغو ۴۱۷ بريدونو څخه يې چې په دې موده کې د سرپناو دباندې په نورو ساحو کې پر پناه غوښتنونکو او مهاجرو شوي دي، هم ښی اړه انګيزه لرونکي جرمونه دي.

د پوليسو په حواله له دې بريدونو څخه يې ۱۹ د »خارجي ايديالوژی» پديدې ساحه کې راځي لکه د مثال په توګه پر کردانو او يا پې کې کې ګوند سره پر تړاو لرونکو. همدا راز پر پناه غوښتونکو او مهاجرو له بريدونو څخه دوو يې کيڼ اړخه انګيزه درلودله.

د يو شمير قضيو شاليد روښانه نه دی. په ټوليزه توګه ۵۵ قضيو کې بيا د زور ښکاره کولو مهم نقش درلود.

د آلمان پارلمان د کيڼ اړخو استازې کلاره بيونګر، وويل: «په آلمان کې واقعاً پر راکډه شويو بريدونه کيږي، سپکاوې يې کيږي او دښمني ورسره پالل کيږي«.

نوموړې وويل چې فدرالي حکومت او ايالتونه بايد ژر تر ژره د کډوالو د ساتنې طرحې رامنځته او عملي کړي. د بيونګر په نظر په دې وروستيو کې د کډوالو پر وړاندې د تاوتريخوالي د زياتوالي علت د پناه غوښتنې په تړاو د حکومت تازه بحثونه دي.

د نوموړې په آند دا څه «پر سرکونو د توکمپالنې انګيزه لرونکو تحرکاتو او د کډوالو پر وړاندې تاوتريخوالي ته زمينه برابروي».